

## هو یا نه (له شکلونو سره)

| | |
|---|---|
| درجه | صفري درجه (له ۴ څخه تر ۵ کلونو پورې) |
| اړینې سرچینې | د شکلونو د کارتونو ډیک (بسته)، یا یو پارچه ورقه، د لیکلو وسایل (ابزار)، او قینچۍ |
| د سرچینو لپاره بدیلې لارې | د کارتونو د ډیک (کڅوړې) جوړولو لپاره، تاسو کولی شی د یو خط کش په واسطه قابو د خپل لاس د ورغوي په اندازه یو مستطیل شکل رسم کړئ. په یوه عامه ورقه کې تاسو کولی شی لږ تر لږه ۱۲ کارتونه جوړ کړی. ددې فعالیت ترسره کولو لپاره لږ تر لږه ۱۲ کارتونه جوړ کړئ. په هره ورقه باندې مختلف شکلونه رسم کړئ (لکه، مثلث، مربع، څلورضلعي، اته ضلعي، دایره، د ستورې شکل او داسې نور).  |
| د پوښښ موضوع | شکلونه او اندازې |
| په نښه شوي مهارتونه | د شکلونو پیژندل |
| الهام اخیستنه | Third Space Learning – Emma Johnson |
| اړین وخت | د چمتو کولو لپاره ۱۵ دقیقې<br>د لوبو کولو لپاره د ۳۰ څخه لږ وخت |
| تیرو زده کړو ته اړتیا | د شکلونو او د هغوی د ځانګړتیاو په اړه پوهاوی |
| ملاتړ ته اړتیا | متوسطه څارنه |

د لوبو قوانین:

| | |
|---|---|
| موخه | د خپل شکل په اړه فکر وکړئ |
| قوانین | هر لوبغاړي ته یو شکل په داسې شکل ورکول کیږي چې هغوی یې و نه شي لیدلی. د شکل د پیژندلو لپاره لوبغاړي کولی شي له نورو لوبغاړو څخه پوښتنه وکړي. لوبغاړي کولی شي داسې پوښتنې وکړي چې یواځې په هو او نه سره ځوابیږي. |
| مرحلې | لومړۍ مرحله: لوبغاړو ته ټول د امکان وړ د شکلونو کارټونه وښایاست.<br><br>دوهمه مرحله: هر لوبغاړي ته د شکلونو یو کارټ ورکړئ، او د لوبغاړو څخه وغواړئ چې هغه کارټ بغیر له کتلو څخه په خپل تندي (ټندي) باندې کیږدي.<br><br>دریيمه مرحله: ښوونکی زده کوونکي په جوړه ای شکل سره کښینوي، او یا زده کوونکي کولی شي چې په خپل ټولګي کې د خپل ځان لپاره یو ملګری پیدا کړي. که چیرته د زده کوونکو شمیر طاق وي، تاسو کولی شی یو ۳ نفري ګروپ جوړ کړی.<br><br>څلورمه مرحله: زده کوونکي په خپل وار (نوبت) سره له یو بل څخه د هو او نه یوه پوښتنه وکړي. د بیلګې په توګه: آیا زما جوړ شوی شکل ۳ اړخونه لري؟ آیا منحني خطونه لري؟ آیا تاسو دا شکل په ټولګي کې وینی؟<br><br>پینځمه مرحله: د هر نوبت څخه وروسته، یو زده کوونکی کولی شي د خپل شکل په اړه اټکل وکړي.<br><br>شپږمه مرحله: هر هغه زده کوونکی چې د خپل ورکړل شوي شکل په اړه تر ټول ژر سم اټکل وکړي، د لوبې ګټونکی شمیرل کیږي. |

| | |
|---|---|
| انځورونه |  |
| په لوبه کې بدلونونه | ډیر مختلف کارتونه جوړ کړئ، یا کولی شی د لوبغاړو هرې جوړې (دوه نفري ګروپ) ته مختلف د کارتونو کڅوړې ورکړئ. کله چې یو لوبغاړی په سم ټول د کارت د شکل په اړه اټکل وکړي، هغوی به د کارتونو له کڅوړې څخه یو نوی کارټ بغیر له کتلو څخه راواخلي او داوړه لوبغاړي به د شکل په اړه خپل اټکلونه وکړي. هغه لوبغاړی د لوبې ګټونکی دی چې په ورکړل شوي معین وخت کې تر ټولو ډیر سم اټکلونه وکړي. |
| ننګونه | ددې لوبې لپاره تاسو کولی شي چې هر هغه کارټ جوړ کړئ چې تاسو یې غواړئ. تاسو کولی شی ساده او یا هم ډیر مغلق شکلونه جوړ کړئ. د بیلګې په توګه تاسو کولی شي لاندې شکلونه جوړ کړئ:<br>قائم الزاویه مثلث ، متساوی الساقین مثلث ، ۷ ضلعی، غیر ضلعی، لس ضلعی او داسې نور. همدا راز کولی شی چې د ریاضیکي او یا غیر ریاضیکي شیانو څخه کار واخلی لکه: عددونه، عملیې، حیوانات، سیارې، د لوبو توکي او داسې نور. |
| ساده کوونه | یواځې له ساده شکلونو څخه کار واخلئ. د بیلګې په توګه تاسو کولی شی د مربع، مستطیل، مثلث او دایرو څخه کار واخلی. کله چې زده کوونکي د دې شکلونو په پیژنلو کې ماهر شول، د هغوی لپاره یو نوی شکل اضافه کړئ. په همدې ډول د شکلونو اضافه کولو ته دوام ورکړئ ترڅو د کارتونو ټوله بسته پای ته ورسیږي. |